وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نیروهاي ائتلافي دست به جلب واحضار جبري مردم زده اند

کابل ٦ سنبله
خبرنگارروزنامه شهادت به نقل قول ازيك قوماندان جمعيت اسلامي بنام قوماندان ظريف خان که تازه از مزارشريف بازگشته بودخبرميدهد که نيروهاي ائتلافي درمزارجلب واحضار عسکري را آغازنموده اند، خبرنگار ما ازقول قوماندان مذکورمي افزايد: افراد داراي سنين شانزده الي سي وپنج سال شامل اين جلب واحضار بوده مانند سابق به جبر واکراه به عسکري سوق وازطريق هوابکابل آورده مي شوند.
قابل ياد آوري است که اين خودنمايندگي از دست وپاچگي وضعف نيروهاي ائتلافي درمقابل نيروهاي جهادي حزب اسلامي مينمايد.

په سالنگ کي د کلم جم دمليشي پواکمالاتي قطار وحيل شو

له بغلان څخه ديوه رپوټ له مخي ويل کيږي چې دتيري چهارشنبي په ورځ دمليشي پواکمالاتي قطار چي دائتلافي قواوو دتقويي لپاره کابل ته روان وپه سالنگ کي دحزب اسلامي دزړورومجاهدينو ترحملي لاندي ونيول شو . دغي حملي دسهارله اوويجو څخه دماښام تراوويجو پوري دوام درلوداودمليشي څخه تقريبا ٣٠. تنه مړه اوټپيان شول او ٧٠. تنه نوربي ژوندي ونيول شوه .
په رپوټ کي داهم راغلي چي ددغه قطارڅخه څلويښت عرادي پوځي موټرونه اوټانکونه هم ويجاړ شول اوپاتي قواوي بيرته شاتگ ته مجبوري شوي .

شماره مسلسل (٥٢٧) سال پانزدهم ،شماره (٧٣) يکشنبه (٨)سنبله ١٣٧١ هـ .ش- (٢)ربيع الاول ١٤١٣ هـ.ق- (٣٠)اگست ١٩٩٢م

(بيه : يوه گڼاره)

قوای حکومت ائتلافی توافقنامه آتش بس رانقض نمود

انا ٧ سنبله :
آخرين گزارش هاي واصله از فرماندهي کل قواي حزب اسلامي حاکيست که قواي حکومت ائتلافي کابل ازتوافقنامه اوربند که به مساعي هيئت صلح شوراي ننگرهار ميان دوطرف درکابل عقدشده بود ، تخلف نمود بعداز ظهر ديروزشنبه چهارمرتبه ميدان هواي شيندند ومراکز مجاهدين حزب اسلامي در چهلستون مورد بمبارد طيارات مليشه قرارگرفته است.
خبرمي افزايد که جريان تخلف ورزي مليشه ها و حليفان آنها از موافقتنامه آتش بس به هيئت صلح اطلاع داده شده است و گروپ تحقيق هيئت صلح حوالي عصر درساحه جنگ رفته اند تاجانب متخلف را شناسايي نمائند.

دمولاناسميع الحق په نامه دورورحکمتيار ليك

اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته :
لوي خداي دي وکري چي صحت موښه وي او عافيت ولري . ترهرڅه د مخه غوارم ستاسو د خدماتو څخه دافغان جهاد لپاره مننه وکړم ، ستاسو معنوي اوسياسي مرسته له جهادسره واقعا ستره وه او الله دي ستاسو څخه قبول اومنظور کړي.
غوارم مختصرا تاسوته اطمينان درکرم اول داچي موږ دهيڅ اسلامي تنظيم پاقوت سره دښمني نه لرو برعکس هغوي خپل وروڼه گڼو ، زموږ مشکل اوجگړه دکمونستي رژيم ديقاياو سره ده اودهغي مليشي سره چي هغوي دروس په لاس روزل شوي اودهيڅ مسلمان افغان عزت ،خان اومال دهغوي دتجاوز څخه محفوظ نه دي . موږخپل ټول تلاش وکړ چي خپل وروڼه چي په جمعيت اسلامي کي دي خصوصا استاد رباني پدي متقاعد کرو چي خپل خان دکمونيستي عناصر واوملېشياڅخه بيل کړي . پدي اړوند دمسعود سره معاهده وشوه اوهم قيادي شوري په خپلو دريو مسلسلو جلسو کي فيصله وکړه چي بايد کمونيستان اومليشيا د حکومت څخه وايستل شي اوحکومت .لکه څرنگه چي تاکل

٣ مخ

استاد عبدالصبور "فريد"
صدراعظم حکومت مؤقت اسلامي

اگرصدراعظم برکنارشود استاد ربانی هم درسمتش باقی نمی ماند

ماتنظيم حزب اسلامي رابخاطر تطبيق قوانين اسلام انتخاب کرده ايم

حرف استادرباني درقسمت جداشدن ماازحزب اسلامي غيرمسؤلانه است

افغانستان درسفرخود به اروپا مصاحبه اي باراديوبي بي سي داشتندکه متن آنرا ذيلا تقديم ميداريم:
ازاستاد عبدالصبور "فريد" صدراعظم حکومت موقت اسلامي افغانستان پرسيده شده که درمورد برطرفي تان توسط استاد رباني چه نظرداريد وچه وقت بکابل بازميگرديد درجواب گفتند : شماگفتيد که ماازوظيفه برکنارشده ايم ، اين گفتار استادرباني است ولي مسئله اينطور نيست استا درباني گرچه که رئيس دولت مؤقت است اگر اومتوجه ميشد . خوداستاد رباني هم بدون فيصله اي به رياست جمهوري نيامده است. آمدن استاد رباني وبنده همه مربوط به معاهده پشاور است . وقتيکه من از حکومت برکنارشوم استادرباني هم دريست رياست جمهوري برقرار نمي ماند اين ازصلاحيت استاد نيست که مارا ازرياست حکومت دورسازد وکسي ديگري رابياورد.
استا د درمورد اين سوال که شمافکرميکنيد که آقاي حکمتيار بدون قيدوشرط به مذاکره بنشينند؟
گفتند : اول بايد فهميده شود که جنگ چرا شروع شده وجنگ چه دليل داشته زمينه هاي جنگ چه بوده تاوقتيکه عوامل آن برطرف نشود بدون قيدوشرط مشکل است صلح تامين شود.

ص ٣

مصاحبهٔ انجنيرقطب الدين "هلال" با بي بي سي

ماازابتدابه هراقدامی صلح جويانه جواب مثبت گفته ايم

خبرنگار راديو بي بي سي درررابطه با پروسه صلح دوروز پيش باانجنير قطب الدين هلال گفتگو بي داشت که متن آن ذيلا خدمت خوانندگان نشرمي شود.
سوال : حزب اسلامي قبلاً تاکيد کرده بود که به آتش بس بي قيد وشرط موافقت نخواهد کرد اکنون چه تحولي رخ داده که حزب اسلامي بدرخواست آتش بس ازطرف پاکستان پاسخ مثبت داده است؟
جواب : ماديروز باوزير خارجه حکومت پاکستان محمد صديق کانجو ملاقاتي داشتيم ودرآن ملاقات بالاي مسايلي بحث شد ودراخير آنها گفتند که ميخواهند درمورد مصالحه درمورد مسايل جاري درافغانستان رول ميانجي راادا کند . مابه آنها گفتيم که مابه اين عمل شماخير مقدم ميگوئيم وشرايط مشخصي داريم وبحث ميکنيم بعدا آنها بخاطر اينکه بتوانند باطرفين ديدارکنند به اين خاطر ديروز تقاضا کردندکه

ماتقاضا داريم شما سريك آتش

ص٣

نیروهای جهادی حزب اسلامی افغانستان ازجبههٔ غربی بالای نیروهای ائتلافی حملات موفقانه انجام دادند

کابل ٦ سنبله .
راديوپيام آزادي به نقل از خبرنگار خود از جبهه غربي کابل خبرداده که نيروهاي جهادي حزب اسلامي افغانستان از جبهه غربي هم داخل ميدان جنگ گرديدند. وباموورال قوي به پيشروي خود ادامه ميدهند.
راديو مي افزايد : برعلاوه پيشقدمي مجاهدين حزب از جبهات مختلف ، مجاهدين تحت فرماندهي دگرجنرال امان الله خوږمن به سوي دارالامان برمراکز نيروهاي ائتلافي پيشروي نموده و تلفات سنگين رابرآنها واردساخت پيشقدمي مجاهدين حزب اسلامي افغانستان برسمت مذکورادامه دارد.

دختيځ فاتح خواك اودماتي خوړلي دښمن لويدلي مورال

دادنامقدس ايتلاف دانگر په منځ کي له يوي زبردستي چاودني نه کمه نه وه ،چي دجمعيت او شوراي نظارمتعهد وقوماندانانودحزب اسلامي دمجاهدينو په وړاندي له جنگ نه انکار وکړ، اوپه داگه يي اعلان کړه ،چي نشي کولي ، دکمونيزم له پاتي شونو سره اوږه په اوږه ديوه داسي خواك پرضدوگي چي خوارلس کاله يي ددين اوملت له دښمن سره جهاد کړي ،اوپدي لارکي يي دسراومال دهيڅ دول نذراني کمي ندي کړي . استاذ رباني اومسعود ته دخپلو قوماندانانو داسي سپين ځواب ددي مانالري چي دحزب اسلامي له دعوي سره سم گردملت اوټول دردمن مجاهدين ورسره پدي کي شريك دي، چي بايد په افغانستان کي يوسوچه اسلامي حکومت رامنځ ته شي ، رښتيا هم چي حزب اسلامي په پيښو اوقضاياووکي تل داسي دريځ نيولي ،چي بايد داسلامي انقلاب داهدافو ترجمان وي تاسو وگوري ! دگوتريه شمير کمونستانو اوداقتدارله پوځووړپرته ،دافغانستان کوم وگري که هغه جهادي امير دي اوکه مجاهد دا ندي ويلي ،اوپه عمل کي يي نه غواړي ،چي دکمونيزم پاتي شوني دي يي وسلي اوبي صلاحيته شي، خوداچي پدي باب ترټولو رومبي دحزب زړورومجاهدينو گام پورته کړ، دادهرچاپخپل تشکل ،تشخص اوايمانداري پوري اړه لري ،ولي موږنه پوهيږو،استاذ رباني اومسعود څه دول له حزب ته دومره ويريږي ،لکه کمونستان چي تري ويريدل ، پدي دول چي دجمعيت مجاهدينو ته بهانه کوي ، چي جمعيت ته دحزب له خواخطر متوجه دي.
موږمجبوريو ،چي ددي ويري دمختيوي لپاره دگلم جمو ملاترلاس ته راوړو ،هغه گلم جم چي دروس په ايتکاررامنځ ته شوي ، اودگوداگي نجيب په پلوي يي څوکاله خونړي معرکي جاري ساتلي . دحيراني خبره داده ،چي دکمونيزم پاتي شوني او نجيب چي څودوله او څو رنگه مماثلت سره لري ، په اعتماد کي پاتي نشول ، نوبيا له رباني اومسعود سره پدي شرط که خپل جهادي ارمان ته همداسي متعهد وي، څنگه وفا داريپاتي کيدلي شي؟
دمثال په دول که چيري داستاذ رباني په" خوله گلم جمان اوپاتورپرچميان داسلامي پوځ يوه برخه وگڼو،نو بيا ولي دمليشو مشرجنرال دخپل ملاترلپاره دحزب دمجاهدينو پرضد دملگروملتونو قواوي راغواري ،اودده داغوښتنه دکابل راديونه پنځه شپږځلي

٣ مخ

رهبران حزب وجمعيت به آتش بس راضي شده اند

راديوپاکستان در سرويس اخبار هشت شب شنبه ٧ سنبله خبرداد که انجنير گلبدين حکمتيار واستاد رباني هردو به يك آتش بس دايمي توافق نموده اند وبراي حل مشکلات فيمابين ازراه مذاکره راضي شده اند.
درخبرعلاوه گرديده که امروز شنبه محمدصديق کانجووزيرامورخارجه پاکستان بابرادرحکمتيار ملاقات نمود ، دراين ملاقات دوساعت راجع به حل مشکلات موجود بحث تفصيلي صورت گرفت .صديق کانجو بعدازملاقات طي يك کنفرانس خبري گفت که ،مذاکرات مفيد بود وهردورهبر به درخواست پاکستان جواب مثبت داده است.

په کارداوو چی دمولوی صاحب محمدنبی اومولوی خالص دسولی پروگرام تقويه شوی وی

محمديعقوب شرافت

امريکا غږ دوږي ٦ نيټه.
محمد يعقوب شرافت انديښنه ښودلي ده چي کابل ته دپاکستاني هيئت سفر به دسولي له پاره دمولوي صاحب خالص اومولوي صاحب محمدنبي هڅي دناکامي سره مخامخ کړي دکدامريکا بږغ سره په مرکه کي وويل: چي تاسو معلومه ده چي دافغانستان داوربند دپاره دبرخلك هلي ځلي کوي اوداضروري خبره ده چي ټول خلك داغواړي چي هلته بايد اوربند راشي . زه داخبره کوم چي دپاکستان دحکومت له خوا نه دغه غوښتنه په داسي وخت کي اعلان شوه چي مولوي صاحب خالص اومولوي صاحب محمد نبي دتورخم نه واوښتل اوافغانستان ته داخل شول چي هلته ددوي ترمينځ خبري وکړي او دلته په اسلام آبادکي پاکستان په رسمي توگه باندي دحزب اسلامي اودجمعيت اسلامي ته داغوښتنه وکړه چي هلته اوربند مراعات کړي تودلته دافغانانو سره دااحساس پيدا شوي دي چي دپاکستان حکومت غواړي چي داوربند دطرحي ابتکاريه خپل لاس کي ونيسي ،په کار داؤ چي دمولوي صاحب محمد نبي اومولوي صاحب خالص دسولي پروگرام يي تقويه کړي وي، دهغو په څنگ کي ولاړوي اودهغو نه علاوه يي دخپل لوري نه هلي ځلي پيل کړي.

پاکستان دمهاجرينو پرمخ سرحد تړلی دی

اسلام آباد : دوږي ٦ نيټه .
دپاکستان حکومت وايي چي دافغانستان سره يي خپل سرحدله دي امله تړلي دي چي دغه هيوادته دنوو مهاجرينو دراتلو مخه ونيولي شي.
اوپوازي هغه خلك چي پاسپورتونه او ويزي ولري هغوي ته به دننه وتلواجازه ورکړي شي . ددي اعلان نه څوساعته وروسته ږدو سوولاريونه زيات چي تقريبا زرفاميله په کښي دسفريه حال کي دي په تورخم کي بندپاتي شول.
دافغانستان رسمي مامورين سرحدته نيږدي وايي چي دابه گرانه خبره وي چي دداسي غرني سرحد نه دمهاجرينو د تيريدو مخنيوي وکړي شي چي انتهانه لري خبرزياتوي چي دنړيوالي مرستي مهاجرينوته کمي شوي او پاکستان په دي عقيده دي چي دنوي مهاجرينودراتلوسره مرسته وکړي شي . رپوټ زياتوي چي دبي ، بي سي خبريال دنيوز له دفتر څخه پوښتنه کړيده اوهغه داسي ويل ددي خلکو کوږ تراوسه په موټروکي او موټر هم هلته ولاړدي. ددغوخلکو سره خوراك اودسرپټولو ځاي نشته يوڅوموټرونو ته اجازه نه ورکول کيږي چي پاکستان ته راشي خوددي خوانه هم سرحد بندکړي شوي دي چي خوراك او دوا اونوردضرورت سامان بندکړي.
ده زياته کړه چي دپنجشنبي پهورځ هم دغه لاره بنده شوي وه خوبيا وروسته خلاصه شوه اواوس بياموږاميد لروچي دغه لاره

٤مخ

دحزب اسلامي افغانستان دمهاجرينو درياست مرستيال انجنيرشاه محمود په شهادت ورسيد

انا - ٥ - ٦ - ١٣٧١
له کابل څخه په رارسيدلي رپوټ کي ويل شوي چي دحزب اسلامي افغانستان د مهاجرينو درياست مرستيال وروور انجنيرشاه محمود دوروستي جگړي په ترځ کي دپنجشنبي په سهار په شهادت ورسيد ،انجنيرشاه محمود چي له ١٢ کاله پرليسي دمهاجرينو درياست مرستيال پاتي شوي اودلکونو مهاجرينو دخدمت ستونزي يي گاللي دي.
نوموري دحزب اسلامي يوپياوړي غړي و ، شهيد وروراانجنير شاه محمود دپنجشنبي په ورځ دځيني مهمو کاروئو دسرته رسولو لپاره داخل ته روان و، اوپدي هڅه کي و چي له هغومهاجرو سره چي دگلم جم مليشي دوحشت له امله له کابل اواطراف څخه يي وتلوته مجبورشوي دمرستي لاري چاري ولټوي دشهد موترد بني حصاراوشيوکيو دکليو ترمنځ دبدنامومليشو دراکټ تردزو لاندي راغي ،ددي دزو په ترځ کي وروور انجنيرشاه محمود دشهادت لورمقام ته ورسيد
اناالله واناالیه راجعون .
#####

سخن روز

مسدودشدن مرزمیان افغانستان وپاکستان

حادث

دیروزجمعه بیست وهشت اگست حکومت پاکستان تصمیمي اتخاذنموده وآنرا به اجرا گذاشت که برا ي اکثریت افغان ها غیرمترقبه وسنگین بود.

حکومت پاکستان اعلان داشت که مرزهاي خویش راباافغانستان بسته وپس از این صرف به کساني اجازه ورود به پاکستان داده خواهد شد که داراي اسناد ومدارك معتبر باشند. بااعلان واجراي این تصمیم دوصدوپنجاه عراده نقلیه که حامل اهالیان کابل بود آنسوي مرزدرحالت انتظاروسردرگمي باقي ماند.

چنانچه ناگفته پیداست وضع ناهنجاروبي امنیتي محض درکابل سبب گردیده که حدود دوصدهزار نفرازاهالیان آن شهرراه فراررادرپیش گرفته عده یي بسوي شرق وجمعي به طرف شمال روي آرند وحتي گروهي ازآن ها سرازتاجکستان بدرنمایند.

دردوران چهارده سال جهاد ملت مؤمن افغانستان علیه امپراطوري کمونیزم که سرانجام موجب نابودي آن گردید بیش ازپنج ملیون افغان راهي دیارهجرت گردیدند طوریکه حدود سه ملیون ازآنها درپاکستان ونزدیك به دوملیون نفر دیگر درایران سکني گزیدند.

درموردوضع مهاجرین افغاني درایران هرچند صباحي یکبار گزارشات تکان دهنده یي انتشارمي یافت که نشان دهنده عمق محرومیت وبیچارگي ایشان بود امادرپاکستان علي الرغم مشکلات اقتصادي شدید وآزارواذیت مامورین دولتي که بیشتراز رشوه ستاني ناشي میشد في المجموع افغان ها وضع بهتري داشتند زیرا میتوانستند آزادانه درشهرهاي مختلف پاکستان رفت وآمد نموده ، بکاروروزگارشخصي پرداخته ودرهرجائیکه بخواهند رحل اقامت افگنند.

صرف نظرازآنکه جهاد افغانستان پاکستان راازبلاي بزرگي نجات دادزیرااگر جلو روس ها درافغانستان سدنمي شد بزودي به طرف پاکستان سرازیرگردیده وپالگدمال کردن این کشور خودرابه آبها گرم میرسانیدند، ازناحیه اقتصادي هم وجود مهاجرین درپاکستان براي این کشور مفید بود زیراکمك هاي بین المللي هنگفتي براي مهاجرین افغان صورت گرفت وطوریکه دست اندرکاران این امور اظهارمیدارند بیشتر از نیم این کمك ها به جیب حکومت پاکستان فروریخت.بهرحال مردم مسلمان افغانستان ازاین وضع راضي بودند زیرا ایشان همه چیز خود را رهاکرده وغرض حفظ دین وناموس خویش راهي پاکستان میشدند واکثرا درانیجا بي هیچ کمکي به کارهاي شاقه پرداخته امرارمعشیت مي نمودند.

چهارده سال به همین منوال گذشت تاسرانجام حکومت نجیب مزدور که حاصل تجاوز روس هابود سقوط نمود وبه سرعت بازگشت مهاجرین به افغانستان آغازگردید طوریکه این سرعت ناظرین بین المللي وکارکنان مؤسسات امدادي راغرق تحیرنموده بود وعده یي ازایشان علنا از مهاجرین تقاضا نمودند که دربازگشت به میهن خویش ازشتاب کارنگیرند. بقول بعضي ازمؤسسات بین المللي درظرف دوماه بعدازسقوط حکومت نجیب مزدور حدود یك ملیون مهاجرافغاني ازپاکستان به کشور خود بازگشتند.

اما متاسفانه که با آشفتگي روزافزون وضع کابل وسرانجام بي امنیتي محض وبرخوردهاي سنگین معادله یکبار تغیرنمود طوریکه آهنگ بازگشت مهاجرین کند تروکند ترشده رفت وبرعکس عده یي ازاهالیان کابل غرض نجات جان وآبروي خویش آن شهرراترك گفتند که ازاین جمع عده یي به پاکستان آمدند.

دردوران چهارده سال جهاد که حدودسه ملیون افغان درپاکستان رحل اقامت افگنده بودند معلوم نبود که چه وقت معضله افغانستان پایان خواهد یافت که این مهاجرین بخانه هاي خود بازگردند اماکنون معامله شکل دیگري دارد زیرااینبار اقامت کساني که دراثر مشکلات امنیتي کابل راترك گفته اند مدت زمان درازي دوام نخواهد کردوبه مجرد بهبود اوضاع درکابل به سرعت به خانه هاي خویش بازخواهندگشت زیرادرپاکستان چیزي نیست که چشم هاي ایشان راکورنموده ومهین گرامي راازایشان فراموش سازد وبه مصداق قول حافظ :

مابدین درنه پي حشمت وجاه آمده ایم
ازبدحادثه اینجابه پناه آمده ایم

ازسوي دیگر مقامات پاکستاني نباید این نکته رافراموش کنندکه درطول چهارده سال گذشته میگفتند که بدلایل بشردوستانه واخوت اسلامي به مهاجرین پناه داده اند پس اکنون چه شده که علي الرغم اسلامیزه ! کردن پاکستان اخوت اسلامي واحساسات بشردوستانه رافراموش کرده اند؟

همچنان حکومت پاکستان باید متوجه باشد که مجبوراست به اساس علایق جغرافیاي طبیعي درجوار مردم افغانستان به سربرده وبه غم وشادي ایشان شرکت داشته باشد واتخاذ چنین روش ها درشرایط حساس کنوني روابط این دوملت رادرآینده دچار تزلزل خواهد ساخت که نه تنها روابط حسن همجواري بلکه تجارت پاکستان راباافغانستان وممالك آسیاي میانه ازطریق افغانستان دچار خطر خواهد ساخت .

دکابل په اوسني وضع کي دنړیوال استکبار اوپرچم باندنقش

ابوخالد

داموضع باید له دي پوهنتنو نه پیل کړوچي دنجیب حکومت ولي سقوط وکړ اوڅه ډول یي سقوط وکړ؟ دنجیب دحکومت دسقوط ډرام یوه داسي لوبه وه چي روسي - امریکایي بنکیلاك یکي دملګروملتوپه جامه کي دسترلوبغاړي حیثیت درلود. که څه هم چي دنجیب دحکومت دزوال عوامل څرګند و اردوعملا مخ په ختمیدو وه اودملیشي چي محدود قطعات وچي دنجیب دحکومت دبقالپاره یي شپه او ورځ پرځان یوه کړي وه اوپه مادي لحاظ خو دهیوادکورني عواید په نشت حساب وچي په دي* توګه دنجیب تړوله اتکاپه بهرنیوبي معاوضي کومکونو وه اوداکومکونه روسیي برابرول ،خوکله چي سره امپراتوري وویشل شوه نو دومره متره یکي نه وه پاتي چي خپل ګوډاګیان دافغاني مجاهدینو په مقابل کي تقویه .کړاي شي نوپردي اساس داکاملا جوته شوه چي دنجیب د حکومت دزوال شپي راورسیدي . البته دخلق - پرچم ګوند اوهم روسیه په دي ښه پوهیدل چي خبره یوازي دیوه حکومت دزوال نه ده بلکي ترټوله مهمه خبره دخلقیانو او پرچمیانو دزوال اودهغوي د سباني ژوند ده نوبي یوه داسي طرح رامنځته کړه چي خلقیان اوپرچمیان دخلکو هیرشي اوهم دخلکو په زړونوکي دمجاهدینو محبوبیت که کاملا له منځه ولاړنشي نوراکم خوشي .

داخبره هیڅکله هم سهي نه ده چي نجیب په اوسني ډرام کي څه برخه نه درلوده اویا داچي په پرچمیانوکي پښتانه یوې خواته او دري ژبي بلي خواته شول.

دپاکستان یولوړرتبه متقاعد جنرال څه موده دمخه لیکلي وچي رشیددوستم دڅور پرشپاړسمه له نجیب سره دملګروملتو په دفترکي وکتل اوله هغه نه یي لازم هدایات واخستل ،په همدي ترتیب سره درشید دوستم دملیشو اوسني ترکیب دابالکل روښانوي چي دپرچمیانو ترمنځ دژبني اختلاف خبره هسي درواغجن تبلیغات دي په همدي ترتیب سره دپښتنو سیمو زیاتره پرچمیان اوس دخپلو کورنیو سره مزارشریف ته تبتیدلي ددي عمده مثال دننګرهار ولایت هغه پرچمیان دي چي دننګرهارولایت که ټول نه وي نوزیاتره خلك یي پیژني څکه چي دهغوي جنایتوهغوي ګردولس ته وربیژندلي ؤ. اوس داخبره هم جوته شوه چي پرچمیانو دامسأله دمجاهدینو ترمنځ داختلافاتو دزیاتولو په خاطر رامنځته کړي ده چي په دي توګه بي غوښتل له یوي خوا افغان جهاد په یوه ژبني ،سمتي اونژادي جنګ تبدیل کړي اوله بلي خوادا اور دومره تیز کړي چي په اسانه یي دوژلو امکان نه وي.

ناسیونالستي تمایلات هغه زړه حربه ده چي نړیوال ښکیلاك تل تري پخپل ګټه کاراخستي چي ډیرښه مثال یي دروسیي په کمونستي تاریخ کي ددویم نړیوال جنګ پروخت دهتلري آلمان دتیریوپه مقابل کي دروسي ولسونو ناسیونالستي احساسات راتحریکول و چي دي کارروسي ملیتونه دالمان په وړاندي دومره تحریك کړل چي المان ته یي په جنګ کي ماته ورکړه چي په پای کي المان دومره کمزوري شو چي دهغه هیواد دویشاك (تجزیي عوامل یي برابر کړل که خداي مکړه په اوسني افغانستان کي داشیطاني حربه کامیابه شوي واي نونه یوازي داچي دجهادي تنظیمونو ترمنځ به دیوي اوږدي جګړي لامل شوي و.

چي دجهاد اصل اومجاهدین به یي هم دهیواد والو په اذهانوکي تکولي اومسخره کړي و اوداخوهغه ساعت وچي کمونستانو له خدایه غوښت اولابي غواړي خوله ښه شامته چي دنړیوال استکبار داطرحه ناکامه شوه اوس حتي دجمعیت اسلامي زیاتره قوماندانان داموضوع عنوانول دجهاد اوهیواد دسالمیت لپاره یوستر خطر ګڼي اوپه دي کارکي بهرني لاسونه هم کاملا احساسوي.

داڅو ورځي دمخه په جمعیت پوري مربوط دشمالي ولایتوګن شمیر قوماندانان احتجاجا له کابل نه ووتل او رباني ته یي ردځوا ب ورکړ چي موږ نشوکولاي له خپلو هغوحزبي ورونو سره چي داځوارلس کاله دروسي امپریالیزم په وړاندي له موږسره اوږه په اوږه جنګیدلي دي ، شهیدان اومعیوبین یي ورکړي کوروته یي وران شوي او دایوه نیمه لسیزه یي دهجرت په ستونزمن محیط کي شپي سباکړي دي وجنګیږو په همدي توګه دشوراي نظار اکثرغړي حزب سره جنګ ته زړه نه ښه کوي څکه له هغوسره هم داسوال دي چي دچاسره جنګیږي اودچا لپاره ؟ دي کي شك نشته چي که دجمعیت مجاهدین دحزب اسلامي سره وجنګیږي نوګټه به یي ټوله ددوستم اوپه مجموع کي دپرچمیانوپه خُولي کي لویږي اودخسرالدنیا والاخره مصداق به ګرځي نواوس یوازي اویوازي کمونستي قطعات اوله کمونستي رژیم نه پاتي شوي ملیشي دي چي درباني اومسعود دناعاقبت اندیشانه ابتکاراتو ! له لامله تراوسه پاتي دي .

رباني اومسعود نه اسلام په پام کي ونیوه نه دهیواد سالمیت اوملي شتمني اونه قوم اوملت .دي دواړودیره بده لوبه وکړه اوبدنتایج یي هم ولیدل اولابه یي وګوري څکه هغودګردمجاهد ولس دهیلو اوغوښتنو پرخلاف قدم پورته کړ هغوي ددي پرځاي چي دخپل مجاهدولس پرداځوارلس کلنو تپوتومرهم کیږدي لایي پري مالګي ودوړولي اوپه کابل کي یي دنویو وژنو اوجنایتونویوه داسي لړي پیل کړه چي پاي یي لاته دي معلوم اوترټولو خودشرم خبره داده چي هغوي کمونستي ملیشي اوقطعات داسلامي حکومت پوخ بولي . داځو درباني اومسعود په څیر سپین سترګي کسان غواړي چي دګرد ولس اوګرد ونړیوالو سترګوته خاوري ورواچوي اولمر په دووګوتو پټ کړي.

داخبره هیڅکله دمنلو ورنه ده چي نجیب ددي اوسني تراژیك ډرام په ستیج کولو کي رول نه درلود . دااوسني حالت پرچمیانو دخپلو بهرنیو باداراتو په مرسته اولارښوونو رامنځته کړ . دنجیب استعفي اودهغه تراستعفي وروسته دجنرال نبي عظیمي په مشري دکابل دامنیت لپاره دیو پوځي شورا تشکیل دسي ،آي ، اي اوکاجي بي مشترك پلان ؤ چي ،دملګروملتو داستازي بینن سیوان په واسطه نجیب ته ورسول شو اوهغه قدم په قدم عملي کړ.

ترنجیب وروسته تشکیل شوي پوځي شورا اعلان وکړ چي جنګ ته اړتیا نشته موږحاضریوپه مسالمت آمیزه توګه قدرت مجاهدینوته انتقال کړو ، خووروستیو جریاناتو څرګنده کړه چي قدرت مجاهدینو ته انتقال نشولکه چي حضرت صبغة الله مجددي دخپلي دوري ترپاي ته رسیدو وروسته په صراحت سره وویل چي زه مازي ددوګوتو جمهور رئیس وم یعني داچي دخپلي استوګني اوکارله دفترنه بهرنه چادجمهور رئیس په توګه منلم اونه مي چاامر مانه . رباني هم په همغه سرنوشت اخته دي. هغه هم ونکړاي شو چي داسلامي حکومت دتشکیل په جهت کي یوګام هم واخلي . رباني اومسعوداوس په حقیقت کي دکمونستانو په لاسونو اسیر دي اودهغوي دګټو اوغوښتنوپرخلاف نه خبره کولاي شي اونه کوم اقدام اوکنه نو اباریاني ته داثبایي په داسي حال کي چي کمونستان پرکابل بشارمسلط وي ، کمونستي بقایادخلکو ژوند ،دخلکو مال اودخلکو ناموس تهدید وي څانته داسلامي دولت رئیس اوخپل حکومت ته اسلامي ووایي چي داسي کسان پیښور ته رارسیدلي چي ددوستم ملیشویي پوزي اوغوڅونه پري کړي دي ، داخلك خبریالانو پخپله لیدلي اودنړیوالو مطبوعاتو او رادیوګانو له لاري یي نړیوال پري خبرکړي دي.

دا چي رباني کله ناکله دنجیب دمحاکمي خبري کوي هم ښودل شوي خبره ده اودادي لپاره کوي چي داسي وښیي چي رشید دوستم خوپه رښتیا هم له نجیب نه باغي شو او له مجاهدینو سره ملګري شو اودنجیب دراپرڅولو په برخه کي یي مهم نقش ولوباوه.اوس خبره ټوله ددوستم اودهغه دملیشو اوپرچمي جنرالانو دسپینو لوده نژدي ده چي رباني داهم ووایي چي ببرك کله له جمهوري ریاست نه ګوښه کړاي شو تربه یي وابسته اومسلمان شوایه همدي توګه کښتمند. نوبکاردي چي دافغانستان په راتلونکي حکومت کي ورته برخه ورکړاي شي.

مثل دي ، چي تورخر پهصابون نه سپینیږي که رباني اومسعود سل څله دوستم اوپرچمي جنرالان ملت ته پاك پاك وځلوي څوك یي نه مني.

څکه که داومتوچي داخلك درباني ترقوماندي لاندي حرکت کوي نوددوي په وخت کي دشویو جنایاتومسؤولیت بیادرست درباني پرغاړه دي باید هغه اسلامي محکمي ته راښکودل شي اومحاکمه شي اوکه دریاني ترقوماندي لاندي نه وي نوبیاخورباني باید داپښي چي دنامقدس ائتلاف کیږه دپرچمیانو په لاس کي ده .

په هرحال دکمونستي قواو په وړاندي باید ټول جهادي تنظیمونه خپل اسلامي مسوولیت وپیژني اودخپل مسؤولیت سرته رسولو په لارکي موثرګامونه پورته کړي . موږ ددي داد ورکوو چي ترڅو کمونستي وسله وال قطعات منحل اوبي وسلي شوي نه وي اوپه کابل کي پراته قوتونه یي هم له کابل نه ایستل شوي نه وي په هیواد کي نه امنیت راتلاي -شي اونه سوله تامینداي شي اونه داسلامي حکومت دجوړیدو امکان شته .

څکه کمونستان داځوارلس کاله

۳مخ

په کابل کي داوسني خونړي جنګ دپیل عواملوته لنډه کتنه اودهغه احتمالي نتایج

قریب الرحمن سعید دوهمه برخه

دوي لا دیخوا څخه

په کابل کي براته وو، ان دپیښوردفارمولونوڅخه لادمخه ، په څلورم دثوردکابل دوړژیم ښېښي ولوړیدي اوداسلامي حزب مجاهدینوله څلورو خواوڅخه دښارپه لوروونبوتل، دښارمهم ځایونه په خپله دښاریانوپه واسطه ونیول شول اوپه ښارکي داسلامي حزب سرغ پورته کړي شو. داسلامي حزب امیرپه پنځم دلوردلوګر دسرخ آب دیوه کلي څخه په پیښورکي یومطبوعاتي کانفرانس ته دمخابري له لاري وښاوکړه ، دکابل دښاردفتحي مبارکي ني ورکړه اواعلان ني وکړچي اوس مونږهماغه فارمول چي استادرباني په کي دجمهوررئیس په توګه پاکل شوي اودعظمي صدارت ني حزب ته ورکړي عملي ګڼونوروفارمولونوته په کي کومه اړتیانه شته . هماغه حکومت دي راشي اوخپل کاردي پیل کړي ، حزب اسلامي به هرډول تعاون نه چمتووي ددي خبردخپریدو سره سم دملیشو ځواکونه چي هلته دښارپه مختلفوځایونو لکه هوایي میدان ، بالاحصار ، تپه تاج بیګ اونورو باندي مسلطي وي دحزب په خلاف جنګ پیل کړ. او نورزیات شمیرځواکونه یي دمزارشریف اوجوزجان څخه په هوایي جهازونوکي کابل ته راسرکړل ترڅوکابل دحزب اسلامي دمجاهدینو څخه چي ۱٤کاله ني دکمونست ګوندپه مقابل کي جنګ کړي په څنګ وساتي، دلته جنګ په شدت سره دوام پیداکړاوهلته په پیښورکي داسلامي اتحادمشراستاد عبدالرب رسول سیاف یوه نوي داسي لړنه جوړه کړه چي اوس به کي بخپله سرتربیښوسوځي مونږنه وابودالونه دچاله خوا اوولي جوړه شوه ، څکه چي داستاد سیاف اوهم دنوروپروفیسورانواوپوهاندانوڅخه چي په دي غونډه کي ني ګډون درلود هیڅ متصوره نه وه چي داسي یوه عجوبه دي جوړه کړي اودافغانستان دحکومت څخه دکوچنیانو دبلجاوړبرلوبه جوړه کړي، څوك به ووائي چي یوقوم چي ۱٤ کاله ني جهادکړي دي، ټول ملك ني دران وي فرد فردني مسلح دي، دکمونست ګوند قوتونه په خپل ځاي پاته وي ، هغه دي داسي یوفارمول جوړکړي چي دوه میاشتي ني انتقالي دوره ، څلورمیاشتي ني بله انتقالي دوره اودهغي وروسته داهل حل وعقد شورا، چي بیابه خپله داهل حل وعقد دانتخاب په طریقي هم نه پوهیږي ، باوروکړي چي که پخپله دهمدي فارمول جوړونکي په جمهوري قصرکي دوه میاشتي داوسیږي نودرواري به ني یکي هم ونه پیژني ، پاته لا حکومت شوء اوبياداسي حکومت چي واك اوځواك ني اصلاً دنوروپه لاس کي وي اوپه خپله به کي دوي لکه ګډبانوحیثیت ولري، تاریخ به په دي یریکړه ډیرافسوس کوي اوهغوي چي دملت سره ني داسي لوبي کړي دتاریخ توروداغ به خپل تندي ولري

حزب اسلامي دداسي حکومت سخت مخالفت وکړاوهغه ني دملت سره جفا وګڼله ، خومتاسفانه چي دحزب اسلامي ځواکپاکل شوي هیئت هم دځیني دوستانودفشار اومجبوریت په اساس په هغه کي لاسلیك کړي دي ددي فارمول داعلان سره سم په داسي حال کي چي په کابل کي دملیشي دپوځونو اودحزب اسلامي دمجاهدینوترمنځ کلك جنګ روان و دپیښوردفارمول سره سم شاغلي مجددي صاحب دیوځوهراداراتو اوپه اصطلاح داسلامي تحریك دارشدوکارکونکوسره یوځاي کابل ته روان شو په داسي حال کي چي ښاغلي مجددي صاحب دګاونډي هیوادولس ګوندو کماندویانوپه حفاظت کي کابل ته روان و، نوترټولو لمړي حمله ني دحزب اسلامي په قیادت وه ، هغه لاکابل ته نه وو رسیدلي چي په لارني اعلان وکړچي حزب اسلامي به کابل کي داسلامي دولت په خلاف جنګیږي هغه اسلامي دولت چي دجنرال نبي عظیمي اوجنرال آصف دلاورپه څیرجنرالان لري ، همداعلت وه چي دښاغلي مجددي صاحب ښه راغلاست دکابل په دروازه کي کمونستوجنرالانو ووایه ، داورځ دافغانستان په تاریخ کي یوتورداغ دي چي دفاتحومجاهدینوپه ځاي په اصطلاح دجهاد یوه مشرته دکمونستانوځواکونو ښه کلي وبل کیږي اوبیاهمدي کمونستانوته دکابل دساتونکواومحافظینولقب ورکوي دیوهاند مجددي صاحب له خوا درسیدو سره سم ترټولو لمړي په اسلامي حزب دبغاوت پاپه ولګول شوه داځکه چي اسلامي حزب غوښتل کابل دمجاهدینوپه لاس فتحه شي اودافغانستان په تاریخ کي داتورداغ پاته نه شي چي ګوبا اسلامي انقلاب د١٤ کالوځان ځاریو وروسته بالاخره دسازش له لاري کابل ته داخل شي حزب اسلامي غوښتل اسلامي انقلاب دقوت له لاري کمونست لړزیدلي رژیم راوپرزوي اوپرځاي یي اسلامي نظام حاکم کړي ، دولس قانلانواوهغوي چي دجرائمواندازه ني نه ده معلومه اولاسونه ني دملت په وینوسره دي دمحاکمي میزته راکش کړل شي نه داچي هغوي ته په دواړولاسوسلامي شي، دهغوي مخونه او سرونه بښکل کړل شي اودچاپلوسۍ اوغوړه مالي په خاطردي دسترجنرالیو په رتبو ونازول شي ، حزب اسلامي نه غوښتل راتلونکي حکومتونه دیردیو په تکیه په زوربه خلکوحکومت وکړي اوداسي حالات رامنځته شي چي ټول ملت به کي غرق شي، بلکه حزب اسلامي غوښتل دوه اوڅلورومیاشتوپرځاي داسي یوه اداره رامنځته شي چي اقلاً ونوانیږي شپږومیاشتوکي انتخابات وکړي اوحکومت دملت درایي په اساس مینځته راشي څکه افغانستان یوه قوي مرکزي حکومت ته اړتیالري، دقوي مرکزي حکومت پرته نه دائتلافي حکومت دوام کولي شي اونه هغه کوم داسي اقتصادي نورم منځته راوړاي شي چي دافغانستان دراتلونکي له پاره ګټورثابت شي . دااوداسي نورلاملونه وو او دي چي حزب اسلامي دداسي یوي مسخره آمیزي طرحي سره مخالفت وکړ.

ربښتیاهم وروستیوحوادثواوبیا خاصتاً پوهاندمجددي صاحب دوخت اودهغي وروسته داستادبرهان الدین رباني حکومتونوهمغه څه وکړل چي داسلامي حزب قیادت یي لادیخوا څخه پیش بیني کوله .

هغه تړونونه چي استادبرهان الدین رباني داسلامي حزب دمشرانجنیرحکمتیار سره دمجددي صاحب ددوه میاشتني دوري په پیل کي په بګرامیو کي لاسلیك کړي وچي په هغي کي ني په څرګنده او په ډاګه داویلي ووچي دملیشي دیوځونوپه وسنلوکي به جمعیت اسلامي اوحزب اسلامي ګډ قدمونه اخلي داستادرباني څوابخپله دانندار دلاسته راوړو وروسته له منځه ولاړل، داستاد رباني هغي لمړني بیانیې نه چي درياست جمهوري دکرسۍ داشغال وروسته ني دلمري ځل له پاره دکابل رادیو اوتلویزیون له لاري نشر کړه ډیرخلك منتظروو چي نوموړي به دخپل تعهدسره سم دملیشو دوسنلو په هکله ډاګیزه پریکړه کوي، خواستاددي پرځاي چي دکمونست رژیم دوسله والوبقایاوپه هکله به ډانګ پیلي اعلان وکړي، اعلان ني وکړچي دجنرال دوستم ۵۳ مه ، دجنرال مؤمن ۷۰ مه اودجنرال منصورنادري ۸۰ مه فرقه ټول داسلامي اردو یوه برخه ده ، اوګوباچي دوي دحزب اسلامي دمجاهدینو دحملي دفاع کړي اوکابل یې خوندي ساتلي دي !! ددي نه ډیره سپکه خبره داستادرباني له پاره داوه کله چې پوهاند مجددي مزارشریف ته دجنرال دوستم دلاس نیوي په خاطر اودهغي دملیشو په واسطه دحکومت په ګدي دکیښناستوداحسان اوسني له پاره هلته مزارشریف ته ورغی او جنرال دوستم ني په براخی سیزکلي مجاهدوګانه بلکه دکابل دمدافع اوفاتح په القاظوني هم وستیره

دوام لري

دمولاناسميع الحق په نامه ...

شوي وه (دپيښوردموافقي) په اساس کاملاً مجاهدينو ته انتقال شي . خوبرعکس زمونږ بعضي وروڼو نه يوازي کمونيستانو او مليشياو سره ائتلاف وکړ ترڅو دده چي مونږ دپيښور دلوظنامي مطابق رباني اومسعود پدي قانع کړل چي مليشا دي ووزي اوکمونيستي جنرالان دله کارڅخه برطرف شي . خومتقابل لوري نه يوازي خپل تعهدات نقض کړل بلکه زمونږ په ضد يي تبليغات شروع کړل اوله بله طرفه يي نورمليشيايي قوتونه کابل ته راوستل .ترڅو چي هغوي په دوه هفتوکي اووه زره ،مليشي کابل ته د هوالة لاري دمزارشريف څخه راوستلي مونږ څو ځله استاد رباني ته پدي هکله شکايت وکړ، زمونږ صدراعظم رسماً دکابيني په جلسه کي اعتراض وکړ خومتاسفانه هغوي په هرصورت د جنګ اراده لرله دااوسني جنګ دوي شروع کړي مونږ صرف دفاع کوو هغو ي(مليشيا) عا م خلك په راکټونوولي اوبيا حزب دفريق تبليغاتو په کمك ملامته کوي مونږ لاخپله حمله نده شرو ع کړي دادوي دي چي دمليشيا وو په لاس نه تنهاد اسلامي حکومت دجوړولو په لاره کي خنداچوي بلکه دعامو خلکو دقتل باعث ګرځي تاسو کولاي شي کابل ته راشي او وګوري چي دجمعيت اسلامي اکثرقوماندانان زمونږ په څنګ کي ولاړدي دشوراي نظار ۲/۳ زمونږ تائيد کوي دسياف صاحب اوخالص صاحب ټول مهم قوماندانان زمونږ ،په څنګ کي برخه لري ځکه هغوي پوهيږي چي مقابل طرف صرف دجمعيت پوښښ استعمالوي.

زماهيله ستاسوڅخه داده چي دپاکستان مسلمان ملت دحقيقي اوضاع څخه خبرکړي . مونږ داد درکوو چي زمونږ يوه ګولي به هم د مسلمان په خلاف نه استعماليږي . اوهغه مسلمان که غواړي کمونيستانو سره و دريږي اوهغوي حمايه کړي زمونږ په نزد هغه د کمونيستانو څخه هم بدتر دي. مونږ ته داسي ائتلاف چي اوس وجود لري دامين څخه تيولي تر نجيب پوري ميسرو . خومونږ هغه ځکه ردکړچي مجاهدينو ۱٤ کاله وينه ديواسلامي نظام لپاره تويي کړه . زمونږ له نظره ائتلاف دکمونيستانو سره د ٥ر۱ مليون شهيدانو دوينو سره خيانت دي.

مونږ استادرباني ته دري شرطه وړاندي کړي که هغه پوره کړي جمعيت زمونږ ورورردي.

۱- مليشيا بايد وشړل شي اوخلع سلاح شي ،دا مليشيا که دهرقوم اونژاد څخه وي بايد خلع سلاح شي.

۲- پرچمي جنرالان دقدرت څخه عزل کړي.۳-انتخابات وکړي ځکه مونږ باور لرو چي افغانستان کي دانتخاباتو دنه کيدو په وجه نژادي اواقليتي ناآرامي رامنځ ته شوي . زمونږ دمشکلاتو حل ، زمونږ ملي وحدت اوارضي تماميت په انتخاباتو ساتل کيداي شي.

نوري خبري هم په زړه کي لرم خوپه مخابره هرڅه ممکن ندي .ستاسو دهمکاري په هيله .

ستاسو وروور حکمتيار

######

مااز ابتدابه هراقدامی صلح ...

بس هفتادو دوساعته توافق نمائيدودراين مدت مذاکرات صورت بگيرد . مااز اين مسئله به برادر مهندس حکمتيار اطلاع داديم بلاخره آنها اين عمل حکومت پاکستان راخيرمقدم گفتند .

وگفتند که ماحاضريم که ازدوازده بجه روز پنجشنبه به بعد آتش بس داشته باشيم بشرط اينکه افراد مليشه جديد به کابل نيايند وتحرکات جديدي نداشته باشند به همين خاطر ما باآتش بس موافقه کرديم و بعد از ساعت دوازده روز پنجشنبه به اين موافقه عمل کرديم.

سوال : آيا اين آتش بس موقتي خواهدبوديا ادامه هم پيدا خواهدکرد.

جواب : براي فعلاً اين آتش بس صرف براي هفتادودوساعت است آنهم درصورتيکه جانب مقابل آتش بس را قبول بکند،

وتحرکاتي تعرضي نداشته باشد ودرجريان مذاکرات معلوم خواهد شد اگر ايجاب کرد و بالايش توافق شد ممکن آتش بس براي يکمدت مختصر ديگري هم باشد.

